مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۳/۰۷/۰۳

# ایماندارو!!

راځئ پدې خبره اتحاد کړو ایماندارو!!
راځئ چې لږ را نوی دا جهاد کړو ایماندارو!!

اقراء د ورور وژني په معنا نه ده سرېیه!
ښه ښکلې به تشریح قام ته سواد کړو ایماندارو!!

راځئ چې دا رښتیا د زړه زندان نه را بهر کړو!!
روحونه حق ویلو باندې ښاد کړو ایماندارو!!

چې زر کاله ژوندی یې؛ سپیني و نه وایې مړ یې!
راځئ چې دا حلال خو ساه ته باد کړو ایماندرو!!

زموږه په ځګرو کې یې چې خپل آسونه خرب کړل
هغه واړه بدرنګه به برباد کړو ایماندارو!!

قلم به لاس کې ورکړو خپلې پېغلې به کړو حورې
د حورو په بچو به ملک آباد کړو ایماندارو!!

باطن به پاک لمنی کړو عمل به پرې ښایسته کړو
تعریف به بیا له سره اجتهاد کړو ایماندارو!!

که دا ډول رانده، کانه، ګونګیان اوسو باوره!
ټول قام به په پوډرو هم معتاد کړو ایماندارو!!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ